مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲٦٧** (از ۲۴ الی ۳۱ سنبله ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**کابل – اسلام‌آباد اړیکي د عمران خان له راتګ وروسته**

د عمران خان افغان تګلاره ........ ۴

آیا عمران خان به خپلي ژمني عملي کړي؟ ........ ۵

د افغان ـ پاک اړیکو راتلونکی ........ ۵

**پیمان امنیتی کابل ـ واشنگتن و نیاز به بازنگری آن**

پیمان امنیتی افغانستان ـ امریکا ........ ۸

پیامدهای پیمان امنیتی با امریکا ........ ۹

نیاز به بازنگری پیمان امنیتی با امریکا ........ ۱۱

## مقدمه

له ۲۰۰۱م کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام په رامنځته کېدو سره د کابل او اسلام‌آباد اړیکې په تېرو ۱۷ کلونو کې تر ډېره بې‌ثباته او له بې‌باوریو ډکې وې؛ خو دا اړیکې د ملي یووالي حکومت له رامنځته کېدو سره د ترینګلتیا وروستي اوج ته ورسېدې. په دغه موده کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د پولو پر سر څو ځله وسله‌والې شخړې هم رامنځته شوې.

په پاکستان کې د نوي نظام په رامنځته کېدو سره د دغه هېواد نوي لومړي وزیر عمران خان له افغانستان سره د ښو اړیکو په درلودو ټینګار کړی دی. دغه راز تېره اوونۍ کابل ته د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سفر هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د بیا رغېدو تمې را ژوندۍ کړې دي. څکه نوموړي کابل د سفر پر مهال له افغان ولسمشر او اجرائیه رئیس سره په افغانستان کې د سولې او ثبات د رامنځته کېدو په برخه کې د مرستې ژمنې کړې دي.

دا چې په پاکستان کې به د نوي حکومت رامنځته کېدل د کابل ـ اسلام آباد پر اړیکې څه اغېز ولري او د پاکستان نوی لومړی وزیر به وتوانېږي چې له کابل سره د خپل هېواد ترینګلې اړیکې بیا ورغوي؟ هغه موضوعات دي چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې مو بحث پرې کړی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو د افغانستان او امریکا ترمنځ امنیتي تړون ته ځانګړې کړې ده. د کابل او واشنګټن ترمنځ د امنیتي تړون له لاسلیک کېدو شاوخوا څلور کاله تېرېږي؛ خو د همدې څلورو کلونو په تېرېدو د افغانستان وضعیت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو دی. په وروستیو کې د هېواد یو شمېر سیاسي احزابو او د پخواني حکومت پېژندل شوو څېرو د دغو تړون د بیاکتنې غږ را پورته کړی دی او ټینګار کوي چې په افغانستان کې د روان بحران یو ستر لامل له امریکا سره امنیتي تړون دی، څکه افغانستان ته یې له ګټې، زیان ډېر دی.

# کابل – اسلام‌آباد اړيکي د عمران خان له راتګ وروسته



په پاکستان کې د لومړي وزير په توګه د عمران خان له راتګ او نوي حکومت رامنځته کېدو وروسته، تېره اوونۍ د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي افغانستان ته راغی او دا د عمران په مشرۍ د نوي جوړ شوي حکومت لومړنی جګپوړی پاکستانی چارواکی دی، چې کابل ته سفر کوي.

قريشي کابل ته د سفر پر مهال د افغان ولسمشر او اجرائيه رئيس په ګډون له جګپوړو افغان چارواکو سره وکتل او په سيمه کې د امنيت او ثبات، د افغانستان او پاکستان د عمل پلان او د دواړو هېوادو ترمنځ د بې‌باوريو له منځه وړلو په اړه يې خبرې اترې وکړې.

له نن څخه پوره يوه مياشت وړاندې (د ۲۰۱۸م کال د اګست په ۱۸مه) د پاکستان د تحريک انصاف ګوند مشر عمران خان د دغه هېواد په پارلمان کې د پاکستان د نوي لومړي وزير په توګه لوړه وکړه او د وينا پرمهال يې وويل چې نوموړی له خپلو ټولو ګاونډيانو سره ښې اړيکې غواړي او د ښو اړيکو ساتلو په برخه کې به ډېره هڅه وکړي.

دا چې د افغانستان په اړه د پاکستان د نوي لومړي وزير عمران خان تګلاره څه ده، نوموړی به له افغانستان سره د اړيکو جوړولو په برخه کې څومره بريالی وي، دغه راز د عمران خان له راتګ سره د افغان ـ پاک اړيکو د راتلونکي په اړه څه تمه کېږي؟ هغه پوښتنې دي، چې په دغه تحليل کې يې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## د عمران خان افغان تګلاره

عمران خان په ۱۹۹۷م کال کې د تحریک انصاف سیاسي ګوند بنسټ کېښود او له کرکټ څخه وروسته یې د پاکستان په سیاسي ډګر کې فعالیت پیل کړ؛ خو له څه باندې دوو لسیزو سیاسي فعالیت وروسته یې ځان د پاکستان د لومړي وزیر تر څوکۍ ورساوه. د پاکستان په تاریخ کې دا لومړی ځل دی، چې د مسلم لیګ او پیپلز ګوند پر ځای یو نوی ګوند او نوی شخص د پاکستان ټاکنې ګټې او د دغه هېواد لومړی وزیر کېږي.

عمران د پاکستان د سیاست ډګر ته له داخلېدو سره تل په خپلو سیاسي فعالیتونو او غونډو کې له یوې خوا په دغه هېواد کې دننه د کمزوري حکومتوالۍ او فساد پر ضد د مبارزې شعارونه ورکړي او له بلې خوا یې په سیمه کې د امریکا له حضور سره او پر قبایلي سیمو د دغه هېواد د بې‌پیلوټه الوتکو د بریدونو مخالفت کړی دی.

عمران خان په پاکستان کې د وروستیو ټاکنو د پایلو له اعلان وړاندې ویلي وو، که چېرې نوموړی ټاکنې وګټي نو د کابل ـ اسلام‌آباد د اړیکو ښه کولو هڅې به وکړي. دغه راز په ټاکنو له بریا وروسته نوموړي یو ځل بیا په اسلام‌آباد کې د وینا پر مهال د خپل حکومت د بهرنۍ تګلارې اړوند یوه برخه کې وویل: "موږ له افغانستان سره ښې اړیکې غواړو او هیله لرو چې یوه ورځ د اروپايي ټولنې په څېر له افغانستان سره پرانیستې پوله ولرو، افغانان د نړۍ یوازینی ولس دی چې تر ټولو زیات جنګ یې لیدلی دی، موږ به په افغانستان کې د سولې او ثبات راتلو لپاره جدي هڅې او کار وکړو، ځکه په افغانستان کې سوله د پاکستان د سولې او آرامۍ په معنا ده".

پر دې ټولو سربېره تېره اوونۍ عمران خان په کراچۍ ښار کې یوې ناستې ته وویل، چې هغو افغان ماشومانو ته به د پاکستان پاسپورټ او پېژندپاڼې ورکړي، چې په دغه هېواد کې زېږېدلي او لوی شوي دي.

د عمران خان پخوانیو درېځونو ته په کتلو سره، د نوموړي له واک ته رسېدو سره په افغان لوري کې د پاکستان د نوي حکومت د ښو سیاستونو او مثبتې تګلارې لپاره هیلې زیاتې شوې. ولسمشر غني هم پر نوموړي غږ وکړ، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ صادقانه اړیکو ته لاره هواره کړي. خو په ټوله کې، بېلابېلو لاملونو ته په کتلو سره دا هیلې تر ډېره پر ځای نه وې؛ ځکه دغو دوه‌اړخیزو اړیکو خېړونکي په دې اند دي، چې عمران خان به د افغانستان په تړاو تر ډېره پخوانۍ تګلاره تعقیب کړي؛ ځکه له یوې خوا نوموړی له پوځ سره نژدې کس بلل کېږي او له بلې خوا د پاکستان شته اندېښنو او بې‌باوریو ته په کتلو سره په اسانۍ سره د پاکستان د افغان تګلارې د بدلېدو تمه هم نه شي کېدای.

## آیا عمران خان به خپلې ژمنې عملي کړي؟

عمران خان تل په پاکستان کې له فساد او فقر سره د مبارزې شعار ورکړی، له کمزورې حکومتولۍ څخه يې سرټکولی او د «نوي پاکستان» د جوړولو هیلې يې لرلې دي. دغه راز په ټاکنو کې له بريا وروسته يې ويلي، چې له خپلو ګاونډيانو سره به د ښو اړيکو هڅه وکړي.

د نوموړي دغو ژمنو ته په کتلو سره، ښايي په د کور دننه عمران خان د «نوي پاکستان» جوړولو هیلې تر يوه حده پوره کړای شي او تمه شته چې له فساد سره د مبارزې او اقتصادي پراختيا په برخه کې خپل هېواد ته کار وکړای شي؛ خو په بل اړخ کې کومې خبرې چې نوموړي د سیمې او خپلو ګاونډيو هېوادونو سره د اړيکو په اړه کړې دي، تر ډېره د پاکستان د ملکي ادارو په واک کې نه دي، بلکې په دې برخه کې وروستۍ پرېکړه د پاکستان د پوځ ده.

که څه هم داسې تحليلونه شته، چې د عمران خان تحريک انصاف ګوند په پاکستان کې نظر نورو ګوندونو ته د دغه هېواد له پوځ سره نږدې اړيکې لري او د نوموړي د بريا تر شا هم تر ډېره د پوځ لاس و؛ خو بيا به هم عمران خان خپله بهرنۍ تګلاره په ځانګړې توګه د افغانستان، هند، امريکا، چين او روسيې په اړه، د پوځ په خوښه او مشوره جوړوي.

دا چې په وروستيو کلونو کې پاکستان له يوې خوا په پراخه کچه له نړيوالو فشارونو سره مخ دی، او په ورته وخت کې د امريکا ډالري مرستې هم پرې بندې شوې دي؛ او له بلې خوا په کور دننه هم له پراخو امنيتي، سياسي او اقتصادي ستونزو سره مخ دی، داسې انګېرنې شته دي، چې ښايي د حکومت ملکي او پوځي اداري يې په ګډه د دې لپاره کار وکړي، چې له دغه حالت څخه خپل هېواد بهر کړي او په نړيواله کچه يې انزوا او خپل باور ته رسېدلی زيان تر يوه بريده راکم کړي.

## د افغان ـ پاک اړيکو راتلونکی

پاکستان او افغانستان هغه دوه ګاوندي هېوادونه دي چې تل يې يو د بل پر درېځونو شکونه کړي او بې‌باوري يې ترمنځ تل موجوده وه. د دغو دواړو هېوادونو اړيکې په ځانګړې توګه له ۲۰۰۱م کال وروسته په تېرو ۱۷ کلونو کې له خورا زياتو لوړو او ژورو څخه تېرې شوې دي. که څه هم ډېر ځله د دغو اړيکو رغولو او باور جوړونې هڅې شوې دي؛ خو ګټه يې يوازې دا وه چې د دواړو لورو اړيکې به د لنډ مهال لپاره ورغول شوې او له يوې امنيتي پېښې سره به بېرته د بې‌باوريو ښکار شوې.

په پاکستان کې د لومړي وزير په توګه د داسې يو کس راتګ چې له پوځ سره نږدې اړيکې لري او واک ته يې تر رسېدو وروسته له افغانستان سره د ښو اړيکو پر جوړولو هم ټينګار کړی، دغه راز کابل ته د پاکستان د بهرنيو چارو وزير سفر او د افغانستان د سولې او ثبات په اړه يې له افغان لوري سره د همکارۍ ژمنې، هغه څه دي چې د کابل ـ اسلام‌آباد د اړيکو د رغېدو هيلې يې را ټوکولې دي.

په بل اړخ عمران هغه څوک دی، چې له پخوا يې په افغانستان او سيمه کې د امريکا له حضور سره تر څه بريده علني مخالف کړی او د نيويارک ټايمز ورځپاڼې په حواله په دې وروستيو کې نوموړي په پاکستان کې د امريکا سفير ته هم ويلي دي، چې په افغانستان کې د جګړې پر ځای سياسي حل‌لارې ته اړتيا ده او په کار ده، چې په افغانستان کې د سياسي جوړجاړي له لارې ثبات رامنځته شي.

عمران خان پر دې باور دی، چې په افغانستان کې د امريکا له روانې جګړې پاکستان هم ډېر زيامن شوی دی. نوموړي په دې اړه د روسيې له آر ټي تلويزيون سره په خبرو کې ويلي وو، چې په پردۍ جګړه کې برخه اخيستل پاکستانيانو ته په لوړ زيان تمام شول او پاکستان ته دا درس شو، چې هېڅکله به د نورو په جګړو کې ښکېل نه شي.

له دې ټولو سره سره، داسې ښکاري چې د پاکستان نوی حکومت هڅه کوي، پر ځان د امريکا او نړيوالې ټولنې وروستي سياسي فشارونه راکم کړي. دا چې امريکا په اوس مهال کې له طالبانو سره د سولې مخامخ خبرې پيل کړې دي، داسې تمې هم شته، چې پاکستان له امريکا څخه د کريډيټ ترلاسه کولو په موخه ښايي هڅه وکړي چې طالبان له امريکا او افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته وهڅوي؛ کوم څه چې له دغې ډلې سره د سولې په برخه کې رښتينې هلې ځلې بلل کېدای شي. په ورته وخت کې دا تحليلونه لا هم پر ځای دي، چې پاکستان به د افغانستان په اړه له خپلې "ستراتېژيک عمق" تګلاې څخه په اسانۍ لاس وانه‌خلي او په خپله تګلاره کې له لنډمهالو بدلونونو سره سره به، د خپلو دايمي اندېښنو له کبله خپله تګلاره بدله نه کړي.

# پیمان امنیتی کابل ـ واشنگتن و نیاز به بازنگری آن



ظاهراً با افزایش ناامنی و ادامهٔ جنگ در افغانستان، انتقادها در رابطه به پیمان امنیتی افغانستان با امریکا نیز بیشتر شده است. هرچند که از امضاء شدن این پیمان حدود چهار سال می‌گذرد، اما هفتهٔ گذشته (۲۱ سنبله ۱۳۹۷هـ ش) سران برخی از احزاب و جریان‌های سیاسی و مقام‌های پیشین حکومتی در یک نشست خواستار بازنگری پیمان امنیتی افغانستان و ایالات متحده امریکا شدند.

از سویی دیگر شماری از اعضای ولسی جرگه نیز این خواست برخی از احزاب و جریان‌های سیاسی در رابطه به بازنگری پیمان امنیتی را تأیید کرده اند و می‌گویند که با در نظر داشت وضعیت امنیتی در افغانستان، نیاز است تا پیمان امنیتی با امریکا بازنگری گردد؛ اما داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه کشور در واکنش به این خواست‌ها گفته است که «بخاطر مسایل شخصی نباید پیمان امنیتی را که از سوی لویه جرگه تصویب شده است، زیر سوال برد، زیرا این کار هیچ کمکی به امنیت و بهبود وضعیت امنیتی کشور نمی‌کند.»

پیمان امنیتی افغانستان با امریکا، وضعیت افغانستان بعد از امضاء شدن پیمان امنیتی با امریکا و این که چرا نیاز به بازنگری پیمان امنیتی با امریکا است؟موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن بحث خواهیم کرد.

## پیمان امنیتی افغانستان ـ امریکا

حامد کرزی رئیس جمهور پیشین افغانستان، ظاهراً به دلیل عدم موجودیت کدام تضمینی از سوی امریکا در رابطه به تحکیم صلح و ختم جنگ در افغانستان، از امضاء کردن پیمان امنیتی با امریکا در زمان حکومت خویش خودداری کرد؛ اما با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی، در فردای مراسم تحلیف، پیمان امنیتی با امریکا امضاء شد.

این پیمان حدود چهار سال قبل از امروز، در تاریخ ۳۰ سپتمبر سال ۲۰۱۴م میان محمد حنیف اتمر مشاور پیشین امنیت ملی افغانستان و جیمز کانینگهام سفیر وقت امریکا در کابل به امضاء رسید. همچنان این پیمان امنیتی از طرف ولسی جرگه افغانستان نیز با اکثریت آراء در کمترین وقت به تصویب رسید.

در کل پیمان امنیتی افغانستان – امریکا دارای ۲٦ ماده و دو ضمیمه می‌باشد که نکات مهم آن قرار ذیل می‌باشد:

- بر بنیاد پیمان امنیتی افغانستان ـ امریکا، دولت افغانستان برای امریکا حق تأسیس قرارگاه‌های نظامی را در مناطق مهم و استراتیژیک افغانستان، چون: کابل، مزارشریف، هرات، قندهار، هلمند، گردیز و جلال آباد داد.
- طرفین پیمان امنیتی برای تقویت امنیت و ثبات افغانستان، مبارزه با تروریزم، سهم‌گیری در صلح و ثبات منطقوی و بین المللی، ارتقای توانمندی افغانستان برای دفع تهدیدات داخلی و خارجی علیه حاکمیت، امنیت، تمامیت ارضی، وحدت ملی و نظام مبتنی بر قانون اساسی این کشور، به تقویت همکاری نزدیک با یکدیگر ادامه می‌دهند.
- طرفین برای افزایش سطح قابلیت‌های نیروهای دفاعی و امنیتی دولت افغانستان همکاری می کنند. برحسب تقاضای افغانستان، ایالات متحده فورا به نیروهای امنیتی افغانستان به هدف باسخ دهی به تهدیدات علیه امنیت این کشور، کمک می کند.
- عملیات نظامی ایالات متحده برای شکست القاعده و وابستگان آن می‌تواند در چارچوب مبارزه مشترک با تروریزم قابل قبول باشد.
- نیروهای نظامی و افراد غیر نظامی امریکا در افغانستان، مسؤول اند تا به قانون اساسی و سایر قوانین نافذه این کشور احترام گذاشته و از هرگونه فعالیت سیاسی در قلمرو افغانستان، خود داری کنند.

- تمام منسوبین نظامی و ملکی نیروهای امریکایی، دارای مصئونیت قضایی در افغانستان می‌باشند. آنها اگر جرمی را در داخل خاک افغانستان مرتکب شوند، مطابق قانون افغانستان محاکمه نخواهند شد. دولت افغانستان حق دستگیری منسوبین نیروهای امریکایی را ندارد و اگر احیاناً یکی از منسوبین نیروهای امریکایی از سوی افغان‌ها دستگیر شود، باید به اسرع وقت دوباره به نیروهای امریکایی تسلیم داده شود.
- طرفین برحسب تقاضای دولت افغانستان اقدامات شان را در راستای توسعه نیروهای امنیتی و دفاعی این کشور، تأمین تجهیزات، تسلیحات، تدوین دکتورین عملیاتی و دستیابی نهادهای آن به معیاری شدن و انطباق پذیری با ناتو، به منظور ارتقای استفاده مؤثر و نگهبانی از کمک‌های دفاعی ملی این کشور با نیروهای ایالات متحده امریکا، هماهنگ می کنند. این همکاری نمی‌تواند مانع افغانستان برای تدارک مستقل تجهیزات و اسلحه برای نیروهای دفاعی و امنیتی افغان از کشورهای غیر ناتو که از منابع مالی افغانستان تأمین مالی شود، گردد.

## پیامدهای پیمان امنیتی با امریکا

بطور کلی تعهداتی که ایالات متحدۀ امریکا با دولت افغانستان در پیمان امنیتی دارد، تا اندازۀ زیاد برای امریکا شکل الزامی ندارد، از جمله عمده‌ترین بنود این پیمان؛ تمویل مالی و تجهیز تسلیحاتی نیروهای نظامی افغان، تلاش برای تأمین صلح و ثبات، همکاری در رابطه به دفع تهدیدات داخلی و خارجی علیه حاکمیت، امنیت و تمامیت ارضی افغانستان و در کل مبارزه با تروریزم می‌باشد.

وضعیت افغانستان با گذشت چهار سال از امضای پیمان امنیتی را می‌توان در چند نکتۀ ذیل بیان کرد:

**وضعیت امنیتی:** پس از امضاء شدن پیمان امنیتی افغانستان با امریکا، وضعیت امنیتی کشور روز به روز به وخامت گرایید، جنگ در ولایت‌های شمال کشور شدت یافت، در طول چهار سال گذشته طالبان در میدان جنگ حالت تهاجمی به خود اختیار کردند، بعد از سال ۲۰۰۱م شهر کندز نخستین شهری بود که پس از امضای پیمان امنیتی با امریکا به دست طالبان سقوط کرد. علاوه بر کندز، فراه و غزنی دو ولایت دیگری اند که طالبان توانستند با حملات تهاجمی خویش تقریبا تمام اداره‌های دولتی آن را تا چند روز در تسلط خود داشته باشند. گروه داعش در این مدت ظهور کرد و در سه سال گذشته به گونۀ چشم‌گیری رشد کرد و دامنۀ نفوذش

گسترش یافت. و همواره مسؤولیت انفجارات مرگبار را در مناطق مختلف کشور به عهده می‌گیرد، تلفات ملکی نیز نظر به هر زمان دیگر افزایش یافت و بربنیاد آمار اخیر سازمان ملل متحد در چهار سال گذشته حکومت وحدت ملی، حدود ۴۰ هزار فرد ملکی در جنگ افغانستان کشته و زخمی شده اند و فراتر از این همه، نظر به گزارش نهادهای مختلف بین المللی، نزدیک به نیمی از خاک افغانستان تحت کنترل مخالفین مسلح دولت می‌باشد.

**وضعیت سیاسی:** با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی و امضای پیمان امنیتی با امریکا، همانند وضعیت امنیتی کشور، در طول چهار سال گذشته وضعیت سیاسی افغانستان نیز ثبات چندانی نداشته است. در اوایل حکومت وحدت ملی اختلافات میان سران حکومت، در پی آن مخالفت قوهٔ مقننه با اجرائیه، قرار گرفتن برخی مقام‌های بلندرتبهٔ حکومت در برابر حکومت و تشکیل ائتلاف‌هایی توسط مقام‌های برحال حکومتی در برابر حکومت، ثبات سیاسی کشور را در وضعیتی قرار داده بود که با گذشت چهار سال تا کنون حکومت نتوانسته که کابینهٔ خود را بگونهٔ کامل از حالت سرِپرستی بیرون کند.

**وضعیت اقتصادی:** پیمان امنیتی نه تنها که وضعیت امنیتی و سیاسی کشور را بهبود نبخشد، در وضعیت اقتصادی افغانستان نیز تغییر چشم‌گیری نداشت. با آن که در چهار سال گذشته شماری از پروژه‌های زیربنایی تکمیل و یا هم افتتاح گردید و عواید حکومت نیز نسبت به سال‌های گذشته افزایش یافت (که وضع مالیه بر کریدیت مصرفی شبکه‌ٔای مخابراتی یکی از عوامل آن بود.) ولی در کل وضعیت اقتصادی کشور نسبت به یک‌ونیم دههٔ گذشته روبه خرابی بوده است. ارزش افغانی به پایین‌ترین حد خود رسیده است (چنانچه در سال ۲۰۱۵م ارزش پول افغانی در مقابل یک دالر۵۷٫۷٦ افغانی بود، اما در حال حاضر ارزش پول افغانی در مقابل یک دالر به ۷۵٫۳۰ افغانی رسیده است)، میزان بی‌کاری به اوج خود رسیده، کشور با فرار سرمایه‌ها روبه‌رو است و رشد اقتصادی کشور نیز روبه کاهش گراییده است. در کل حدود ۴۰ درصد مردم افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کنند و نظر به احصائیهٔ بانک جهانی نزدیک به ۲ میلیون افغان واجد شرایط کار، بی‌کار هستند.

## نیاز به بازنگری پیمان امنیتی با امریکا

در حال حاضر با در نظر داشت وضعیت امنیتی، سیاسي و اقتصادي افغانستان، دیده می‌شود که بعد از امضای پیمان امنیتی افغانستان با امریکا نظر به چهار سال گذشته اوضاع کشور بدتر شده است.

پیمان امنیتی افغانستان ـ امریکا که از همان اوایل در هاله‌ای از ابهام قرار داشت، عده‌ای نه اندک از افراد و نهادها با امضای آن مخالفت خویش را نشان داده بودند، اما بدون این که بحث عمیق روی آن صورت گیرد و پیامدهای ناگوار آینده آن برای افغانستان در نظر گرفته شود، از سوی حکومت وحدت ملی به زودترین فرصت امضا گردید. و از سوی پارلمانی که امروز خواستار بازنگری آن است، بدون اینکه در مورد آن بحثی صورت گرفته باشد به رأی گیری گذاشته شد و با 5 رأی مخالف و سه رأی ممتنع، تائید شد.

در کل با آنکه سر و صداها و تقاضای بازنگری پیمان امنیتی با امریکا بعد از مدت طولانی بلند شده است و تحلیل‌هایی نیز وجود دارد که افرادی که خواهان بازنگری پیمان امنیتی افغانستان با امریکا شده اند، یا بخاطر رسیدن به اهداف سیاسی شان حکومت را تحت فشار قرار می‌دهند و یا هم به خواست و اشارۀ برخی کشورهای منطقه که مخالف حضور امریکا در افغانستان اند، می‌خواهند سر و صدای خویش را پیرامون بازنگری پیمان امنیتی با امریکا بلند کنند؛ اما باز هم برای اینکه وضعیت افغانستان، بیشتر از این به وخامت نگراید، و افغانستان به سرنوشت سوریه مبتلا نگردد، نیاز مبرم جامعۀ افغانی است تا هر آنچه به ثبات و استقرار کشور می‌انجامد را بازنگری نماید و به جای ادامۀ جنگ و تباهی به گفتگوهای صلح روی آورد و این داستان غم‌انگیز چندین دهۀ افغانستان را از طریق گفتگو خاتمه بخشد.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com